# ملا احمد کندهاری

د افغانستان د پوهانو او دانشمندانو بشپړ تاریخ تر اوسه چا نه دئ لیکلئ،او نه ددوي آثار او تالیفونه چا دکتاب په ډول سره راټول کړیدي نو ځکه موږ ډېر نوم ورکی لیکوال او پوهان لرو چي د هغو پېژندنه او بیا په نورو پېژندنه د اوسني مؤرخ کار دئ.

د افغانستان د اتلسمي پېړۍ یو ډېر مشهور عالم او لیکوال اروابښاد ملا احمد د اسمعیل ابدالی زوی دئ دی د کندهار د الکوزو ښځه وُ، او د ده پلار د احمد شاه بابا په وختو کښي د کندهار مشهور پوهاند وُ، ملا احمد په کندهار او هند کښي خپل تحیصلات او لوستني تر سره ورسولې، او بیا په کندهار کښي خطابت او تدریس ته ورسېده، او په تېمورشاهي عصر کښي د کندهار قاضي القضات وُ.

په کندهار کښي یو زوړ روایت داسي اورېدل کېده، چي احمدشاه بابا کندهار جوړ کړ، نو دعلم لوست تون په ملا احمد او ددوي په شاگردانو روڼ سو. او د روحانیت او طریقت خانقاه د میا عبدالحکیم کاکړ شاگردانو او مریدانو روښانه کړه.

ملا احمد ابدالي په کندهار کښې ډېر مشهور عالمان وروزل، دده له پوهو شاگردانو څخه کندهاری محقق مولوي حبیب الله کاکړه هم وُ، چي په حبو اخندزاده مشهور دئ، او دغه محقق او لوی مؤلف پخپلو کتابو کښې وايي چي : اخوند ملا احمد مرحوم په عقلي علومو کښې زما استاد وُ.

د ده دوه نور شاگردان د خرقې شریفي ملا عبدالحق علیزی او ملا کته ترکی هم وُ. چي دواړه په کندهار کښې په استادی منل سوي وه او سید جمال الدین افغان پخپلو یاد داښتونو کښې د حبو اخوند زاده او ملا عبدالحق علیزي ذکر هم کوي.

ملا احمد په طریقت کښې د پوټی د ملا نورمحمد څخه استفاده کړې وه، د حجاز په سفر تللی وُ او دعربو سره په علمي مباحثاتو او مفارضاتو بوخت سوی وُ.

## دده د شخصیت دری اړخه

د کندهار د سپین ږیرو روایت دئ چي د ملا احمد ژوند په درو کارو کښې تیرېده یعني دده سیرت درې اړخه لري :

- سهار به د قضا پر مسند یو ډېر عادل او د شریعت حامي قاضي وُ او پر پاچا او گدا به ئې یو راز حکم کاوه.

- ماسپښین به په مدرسه کښې د معقول اومنقول استاد وُ او شاگردانو ته به ئې کتابونه لوستل.

- ماښام به په خانقاه کښې د طریقت او روحانیت پر سجاده ناست مرشد او رهنما وُ چي ارادتمندانو ته به ئې د اشراق او روحاني صفا لار ښووله. په پوهانو کښې دغسي څوک چي شریعت او طریقت اومعقولات ئې سره یو ځای کړي وي ډېر دي.

شریعت او طریقت خو سره یو ځای کېداي سي مگر دغه دواړه له فلسفې سره یو ځای کول دجامع شخصیت او ستر انسان کار دی، او دغه صفات د ملا احمد الکوزی په ذات کښي لیدل کیږي.

ملا احمد په معقولو او منقولو کښي ډېر کتابونه لیکلي دي چي تراوسه پوره نه دي چاپ سوي او ټول خطي دي، تر اوسه ما دده دغه خطي آثار لیدلي او لوستلي دي :

1. ***تعلیم السلوک*** : دا کتاب د ملا نورمحمد پر "مقاله عالیه" شرحه ده او موضوع ئې تصوف او طریقت دی.
2. ***کاشفه*** : په فارسي یوه رساله ده چي د وحدت مسائل څیړي.
3. ***فارقه*** : عربي رساله ده چي د وحدت وجود او شهود فرق بنیي اود دواړومسلکو تحقیق کوي.
4. ***بیان وافی فی الطوائف صوفیه*** : عربي رساله ده د صوفیانو دمختلفو ډلو او طریقو په بیان کښي.
5. د منطقو پر ضد باندي میزرا هروی ( متوفی په کابل کښي ۱۱۱۱ ه ) یوه شرحه لري چي درسي معروف کتاب دی او علامه احمد پر دغه کتاب بله شرحه لیکلې ده چي په قدیم منطق کښي یو تحقیقي او عمیق کتاب دی.
6. ***د علم هیئت پر بیست باب باندي حاشیه*** : دا کتاب ما نه دی لیدلی خو د افغانستان د دائره المعارف کوم لیکوال د ده په نامه لیکلی دئ.

## روایات :

د ملا احمد ابدالي د سیرت او فکر په خصوص کښي به دکندهار سپین ږیرو ځیني روایتونه او قصې کولې، مرحوم ملا عبید الله خروټی

به ویل : چي د ده دعلم او لوست سلسله ملا احمد ته رسيږي، او استادان ئې ددغي علمي ډلي شاگردان وه.

ده به ويل چي ملا احمد په قضاء او شرعي حُکم کښي د ظاهر شريعت ډېر مقلد وُ او هر څه چي به د شريعت دظاهره سره مخالف ورته ښکاره سول، هغه به ئې د قضاء او احتساب له لاري منع کول، مگر دی د عقلي علومو او فلسفې مدرس هم وُ او پوهان به له ليرو ځايو څخه د علمي مشکلاتو د حل لپاره ورته راتلل، او اکثر هم د معقولو متون ئې داسي په ياد وه، که به په کومه خطي نسخه کښي سهوه وه، نو به ئې غلطي په علمي دلايلو ردوله او اصلاح به ئې کوله. لکه چي داحمدشاهي فتاوا په تاليف کښي ډيري خطي نسخې دده له خوا تصحيح سوي دي.ملا احمد د افغانستان د قضاء او عقلي علومو او تصوف په تاريخ کښي مهم ځای لري او دی د ۱۳۲۰ هـ په حدودو په کندهار کښي وفات سويدئ. د کندهار د اختر د ورځي او احمد شاهي جامع خطابت تر اوسه دده په کورنی کښي پاته دی.

دغه عالم او متقي سړي د پښتو شاعر هم وه دده ځيني اشعار د خلکو په ياد وو چي دغه عارفانه رباعي ما له قاضي اختر محمد سهاکزي څخه اروېدلي وه :

## رباعی

نظر مي وکئ، کون و مکان ته
دې کښتي، پورتي مځکي آسمان ته
څه چي ليده سوه، يوازی دی وُ
شئون د ذات دي، گوره جهان ته

(۱) کندهار مجله، ۱۳۴۳ کال،۱۰ مه گنه، ص ۲ _ ۴.